# په سکاټلېنډ کې د مهاجرينو ځای پرځای کيدلو لاربنود

## د کرايه مسؤليتونه او د ځای پر ځای کيدلو لپاره څنګه پرداخت وکړو؟

Rent and housing cost - Pashto

۷مه پانه- اپريل ۲۰۱۱

HAPPY TO TRANSLATE

که تاسو د پاتيکيدو اجازه ترلاسه کړه، تاسو به د خپلي اوسيدني لپاره د کرايه ورکوئ. دا پانه د چمتو مرستي لند لاربنود دی که چيري ستاسو ګټه لږه وي يا دنده ونه لرئ. دا د دي لپاره هم مالومات چمتو کوي چي څنګه تاسو کرايه ورکولو کي مرسته لاسته راوړئ.

د اجاره کونکي په حيث د کرايي ورکړه ستاسو مسؤليت دی. که تاسو کرايه ورنه کړئ، دا کولای شي ستاسو ويستل او د کور له لاسه ورکول ځان سره ولري.

تاسو بايد مشوره وپلټئ، ځکه چي دا پيچلي ځيزونه دي؛ د دي پاني په پای کي مالومات تاسو ته وای چي څه وکړئ.

**څه خپل کور له يوه انجمن يا د ځای پر ځای کيدني يون نه کرايه کوم. د کرايي ورکړي لپاره زه څه مرسته ترلاسه کولای شم؟**

که تاسو لږ آمدن لرئ يا د ويلفير ګټي لاسته راوړئ، نو تاسو شايد د دي وړتيا ولرئ چي د ځای پر ځای کيدني ګټي غوښتنه وکړئ.

**زه دا څنګه وکړم؟**

که تاسو فکر کوئ چي تاسو مرستي ته اړتيا لرئ، نو ژر تر ژره خپل محلي انجمن د ځای پر ځای کيدني ګټي دفتر ته تلفون وکړئ يا ورشئ. د هغي ځای کارمندان به تاسو ته د ډکولو لپاره يو فارم درکړي چي بيرته يې راواستوئ.

که تاسو د فارم ډکولو لپاره مرستي ته اړتيا لرئ، نو په ۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷ د سکاټش رفيوجي کونسل ځای پر ځای کولو ډلي سره اړيکه ونيسئ يا د کوم پيسو مشورې اژانس سره. د اړيکو لپاره توضيحات د دي پاني په پای کي وګورئ.

کونسل ته سره له مکمل شوي فارم ورکولو، تاسو دي ته اړتيا لرئ چي د هغي پر ټولو مالوماتو- هويت، آمدن، کرايه، و غيره ثبوت چمتو کړئ.

د شیلټر سکاټلیند ویب پاڼه کې د ګوښتني ملاتړ لپاره اړ مالوماتو کتن لست (چیک لسټ) وګورئ:

http://scotland.shelter.org.uk/__data/assets/pdf_file/0014/23081/Checklist_-_items_to_support_a_benefit_claim.pdf

کله چې تاسو فارم ورکړ، د دې لپاره د رسید لاسته راوړلو نه ځان مطمین کړئ.

**راتلونکي کې څه پیښیږي؟**

کونسل به پریکړه وکړي چې ایا تاسو د اوسیدني ګټي حق لرئ او، که هو، څومره. د پریکړې کولو لپاره دا شاید له تاسو څخه نور مالومات هم وغواړي.
که تاسو ۱۴ ورځې وروسته پریکړه لاسته رانه وړه، نو د ځای پر ځای کوني ګټي دفتر سره د موقتي ورکړې لپاره اړیکه ونیسئ چې تاسو د کرایه ورکړې کې شا ته پاتې نه شی.

کونسل به تاسو ته د پریکړې په اړه ویلو لپاره ولیکي. که دوی تاسو سره د مرستي وړتیا ولري، نو کونسل به په مستقیمه توګه ستاسو د مځکي مالک ته د اوسیدني ګټي ورکړه پیل کړي. که تاسو فکر کوئ چې پریکړه شوی مقدار درست نه دی، نو تاسو کولای شی د دې استناف وغواړئ. تاسو کولای شی د دې پاڼي په پای کې لست شویو آژانسونو له یوه څخه مرسته وغواړئ.

**څه غواړم له شخصي مالک څخه کور کرایه کرم. د کرایي د ورکړې لپاره زه څه کمک لاسته راوړی شم؟**

که تاسو لږ آمدن لرئ یا کار نه کوئ، نو تاسو شاید د محلي اوسیدني تخفیف غوښتلو وړتیا ولرئ. د بنه توب اثبات بې پیچلی دی، او د دې لپاره تاسو باید خپل محلي کونسل سره مشوره وکړئ چې هغه به د شخصي کرایه کولو لپاره څه پرداخت کړي. تاسو کولای شی د دې پاڼي په پای کې لست شویو اړیکو څخه هم مشوره واخلئ.

**د مرستی لاسته راوړو لپاره څه وکړم؟**

که تاسو د شخصي کرایه کولو فکر کوئ، نو لومړی ستاسو د محلي کونسل ویب پاڼي ته د تخمین لپاره چې تاسو څومره د اوسیدني ګټي وړتیا لرئ ، کتنه وکړئ. که تاسو فکر کوئ چې مرستي ته اړتیا لرئ نو ژر تر ژره ستاسو د محلي کونسل د اوسیدني ګټي دفتر ته تلفون وکړئ یا ورشئ. د هغې ځای کارمندان به تاسو ته د ډکولو لپاره د غوښتني یو فارم درکړي. کله چې هلته لاړئ نو تاسو باید د کونسل مالیې ګټي غوښتني فارم هم وغواړئ.

که تاسو د فارم ډکولو لپاره مرستي ته اړتیا لرئ، نو په ۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷ د سکاټش رفیوجي کونسل ځای پر ځای کولو ډلې سره اړیکه ونیسئ

**که زه محصل اوسم نو د کرایه ورکولو لپاره څنګه مرسته لاسته راوړم؟**

ډیری د پوره وخت محصلین د اوسیدني ګټي غوښتني مستحق نه دي. په هر ترتیب، که تاسو د نیمه وخت محصل یې یا که تاسو په یوی استثناي کټګوری کې یې، نو بیا شاید تاسو وکولای شی د کرایه لپاره مرسته لاسته راوړئ. د مثال په توګه، که تاسو یووستوی پلار یې یا ناتواني لرئ، تاسو شاید وکولای شی د اوسیدني ګټي ته لاسرسی ولرئ.

که تاسو محصل یې، د کار او تقاعد ویب پاڼه کې د اوسیدني ګټې ته لاسرسی لپاره ورتیاو په اړه لا زیات ومونډئ:
http://www.dwp.gov.uk/publications/specialist-guides/technical-guidance/rr2-a-guide-to-housing-benefit/students/

که تاسو یو محصل یې نو کولای شی د اوسیدني ګټې ته لاسرسی په اړه له ستاسو محلي کونسل، شیلټر سکاټلینډ یا محلي اوسیدونکو مشورې دفتر څخه مشوره واخلئ.

که تاسو د اوسیدني ګټې ته د انتخاب وړ نه یې، نو تاسو باید په خپل کالج یا پوهنتون کې د محصل خدمتونو سره د نورې مشورې لپاره اړیکه ونیسئ.

**راتلونکي کې څه پیښیږي؟**

کونسل به پریکړه وکړي چې ایا تاسو د محلي اوسیدني تخفیف مستحق یې او، که هو، څومره. دا شاید تاسو نه د پریکړې لپاره نور مالومات وغواړي.

که تاسو ۱۴ ورځې وروسته پریکړه لاسته رانه وړه، نو د ځای پر ځای کوني ګټې دفتر سره د موقتي ورکړې لپاره اړیکه ونیسئ چې تاسو د کرایه ورکړې کې شا ته پاتې نه شی.

کونسل به تاسو ته د پریکړې ویلو لپاره ولیکي. که دوی تاسو سره د مرستې وړ و، نو کونسل به د ټاکل شوي مقدار ورکړه پیل کړي.

که د کونسل ویل شوی مقدار چې ورکول کیږي ستاسو د کرایه نه پوره کوي، تاسو کولای شی د احتیاطي اوسیدني پرداخت د کسرې پوښښ لپاره غوښتنه وکړئ. تاسو کولای شی د دې لپاره مشوره واخلئ چې د دې پاڼي په پای کې لست شویو خدمتونو نه څرنګه غوښتنه وکړئ.

**زه د کرایې په ورکړې کې شاته پاتي شوم. زه څه کولای شم؟**

د کرایې په ورکړه کې وروسته پاتیکیدو ته 'په وروسته ورکړه کې' وای. که تاسو د کرایې وروسته ورکړه لرئ، ستاسو د مځکي مالک کولای شي تاسو له کوره وباسي، نو تاسو باید څومره ژر چې امکان ولري مرسته وپلټئ.

دا هغه څه دي چې تاسو یې باید وکړئ:

- خپل د مځکي مالک سره وغږیږئ

شاید ممکن وي چې یوې فیصلې ته ورسیږئ او هغه به تاسو سره وروسته ورکړو ته د رسیدلو لپاره مرسته وکړي. که تاسو یوه کونسل یا د اوسیدني یون نه کرایه کوئ، نو دوی باید وګوري چې ایا تاسو د کومو ګټو مستحق یې چې ستاسو د کرایې ورکولو لپاره تاسو سره مرسته وکړي. ځینې مالکین د ویلفیر حقونو افسرانو ته دنده ورکوي کوم چې کولای شي تاسو ته کمک وکړي.
که تاسو له شخصي مالک څخه کرایه کوئ، نو تاسو باید ستاسو د محلي کونسل اوسیدلو ګټې دفتر په واسطه وکتل شی: تاسو شاید د محلي اوسیدني تخفیف ته د انتخاب وړ نه اوسئ.

- مرسته لاسته ته راوړئ

د اوسیدونکو مشورې مرکز، یوه محلي مشورې مرکز، یا سکاټیش رفیوجي کونسل سره اړیکه ونیسئ. مه ناوخته کوئ!

**زه چیرته کولای شم نور مالومات لاسته راوړم؟**

تاسو کولای شی اړیکه ونیسئ:

**د سکاټیش رفیوجي کونسل د مهاجرینو څای پر ځای کولو دله**

د مشورې لپاره په دې شمیرې وړیا تلفون وکړئ یا د مشورې کارکونکي سره یو ناسته جوړه کړئ: ۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷

**شیلټر سکاټلینډ**

دې شمیرې ته د مشورې لپاره وړیا تلفون وکړئ: ۰۸۰۰۸۰۰۴۴۴۴

**په اوسیدني کې مثبت عمل**

د دې خدماتو په اړه مالوماتو لپاره دې شمیرې ته تلفون وکړئ: ۰۱۴۱۳۵۳۲۲۲۰

**یو محلي د مشورې مرکز**

په ۰۸۰۸۸۰۱۱۰۱۱ د GAIN هیلپ لاین سره تاسو ته د نږدې مرکز په اړه توضیحاتو لپاره تلفون وکړئ

د شلټر سکاټلینډ په ویب پاڼه کې د کراېې ورکړې په اړه مالومات وګورئ:
http://scotland.shelter.org.uk/getadvice/advice_topics/paying_for_a_home/paying_rent